


مَدرَسه عَرَبِیّه اِسلاَمِیَه
جَامِعْ مَسجِدْ رَحمَانِيْ هلمند
(۰۷۰۸۳۱۹۱۷۹)


# دماشومانو دیني تعلیمات


مرتّب

مفتی احسان الله شائق

پښتو ژباړه

الحاج مولوي عبد الحنان دیوبندي

معاون

احمد یاسین عفی الله عنه

# دماشومانو

# ديني تعليمات


مرتب: مفتی احسان الله شائق

پښتو ژباړه: الحاج مولوي عبدالحنان ديوبندي
فاضل جامعة العلوم الاسلامية علامه بنوري ټاون

معاون: احمد یاسین عفی الله عنه



مَدْرَسه عَرَبِيَّه اِسْلاَمِيه جَامِعْ مَسْجِدْ رَحْمَانِيْ
لښكرګاه، هلمند . (۰۷۰۸۳۱۹۱۷۹)



www.jamairahmani.org

# فهرست


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | اول سبق: ایمانیات | ۱ |
| ۲ | دوهم سبق: د رسول الله ﷺ د ژوند په هکله | ۴ |
| ۳ | دريم سبق: د الله جَلّ جَلالُهٗ د دوستانو ملائيکو او انسانانو په هکله | ۶ |
| ۴ | څلورم سبق: د قرآن کريم په هکله | ۹ |
| ۵ | پنځم سبق: د اسلامي کليزي په هکله | ۱۱ |
| ۶ | شپږم سبق : د سنت او بدعت په هکله | ۱۲ |
| ۷ | اووم سبق : د قيامت په هکله | ۱۴ |
| ۸ | اتم سبق: د اسلام د ارکانو په هکله | ۱۶ |
| ۹ | نهم سبق: د لمانځه د کولو طريقه | ۲۰ |
| ۱۰ | لسم سبق: د سلام د احکامو بيان | ۲۵ |
| ۱۱ | يولسم سبق: دژوند د ادبونو په بيان کښي | ۲۷ |
| ۱۲ | دولسم سبق: د پاکۍ او نظافت په بيان کښي | ۲۹ |
| ۱۳ | ديارلسم سبق: دلباس او جامو په بيان کښي | ۲۹ |
| ۱۴ | څوارلسم سبق: دخوراک او څښاک ادبونه | ۳۲ |
| ۱۵ | پنځم سبق: د ګناهونو په بيان کښي | ۳۳ |
| ۱۶ | شپاړسم سبق : دلوبو په بيان کښي | ۳۵ |


www.jamairahmani.org

| صفحه | عنوان | شماره |
| --- | --- | --- |
| ۳۷ | اوولسم سبق: د ځلوېشتو حديثونو په هکله | ۱۷ |
| ۳۸ | ځلوېشت حديثونه | ۱۸ |
| ۴۲ | اتلسم سبق: مسنوني دعاګاني | ۱۹ |
| ۴۵ | د سهار او ماښام د لمونځونو څخه وروسته دعاګاني | ۲۰ |

# اول سبق: ایمانیات

**سوال:** تاسي څوک یاست؟

**جواب:** موږ مسلمانان یو.

**سوال:** ستاسو دین څه دی؟

**جواب:** زموږ دین اسلام دی.

**سوال:** ستاسو پالونکی څوک دی؟

**جواب:** زموږ پالونکی الله ﷻ دی.

**سوال:** تاسي او ټوله دنیا چا پیدا کړې ده؟

**جواب:** موږ او ټوله دنیا الله ﷻ پیدا کړې ده.

**سوال:** د چا عبادت باید وکړل سي؟

**جواب:** د الله ﷻ عبادت باید وکړل سي.

**سوال:** د مسلمانانو د کتاب نوم څه دی؟

**جواب:** د مسلمانانو د کتاب نوم قرآن کریم دی.

**سوال:** ستاسو پیغمبر څوک دی؟

**جواب:** زموږ پیغمبر حضرت محمد ﷺ دی.

**سوال:** د اسلام کلمه څه ده؟

**جواب:** د اسلام کلمه دا ده: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

معنی یي دا ده: (د الله ﷻ څخه علاوه بل څوک د عبادت وړ نسته او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی)

**سوال:** کلمه شهادت بیان کړی؟

www.jamairahmani.org

**جواب:** كلمه شهادت داده:

أَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ
وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

معنى يي داده: ( زه شاهدي وركوم چي دالله ﷻ څخه علاوه څوک دعبادت وړ نسته او زه شاهدي وركوم چي محمد ﷺ د الله ﷻ پيغمبر دى )

**سوال:** ايمان مُجمَل څه دى ؟

**جواب:** ايمان مُجمَل دادى:

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِأَسْمَآئِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَقَبِلْتُ جَمِيْعَ أَحْكَامِهٖ
وَأَرْكَانِهٖٓ إِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْقَلْبِ ط

معنى يي داده: (ما ايمان راوړى دى پر الله ﷻ باندي لكه څنګه چي هغه دخپلونومونواوصفتونو سره دى او د ده ټول حكمونه مي منلي دي او اقراركوم په ژبه سره او منل كوم په زړه سره )

**سوال:** ايمان مُفصّل څه دى ؟

**جواب:** ايمان مُفصّل دادى:

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ
وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ ط

معنى يي داده: ( ما ايمان راوړى دى پر الله ﷻ باندي او

پرملائيکو دهغه باندي او پر کتابو دهغه باندي او پررسولانو دهغه باندي اودقيامت پر ورځي باندي اوپردې خبره چي دښو او بدو تقدير (اندازه) د خداى ﷻ لخوا دى اودمرګ څخه وروسته پر راپورته (ژوندي) کېدولوباندي مي هم ايمان دى.)
مطلب داچي: ايمان مفصل په زړه او په ژبه سره دلاندي خبرو اقرار کول دى:

❶ الله ﷻ يو دى او دهغه پرته بل څوک دعبادت لايق نه دى.
❷ دملائيکو وجود حق دى، ملائيکي دالله ﷻ دحکم څخه هيڅ سر غړونه نه کوي.

❸ الله ﷻ چي څومره کتابونه نازل کړي دي ټول حق دي.

❹ ټول نبيان عليهم السلام رشتيني او پرحق دي.

❺ قيامت به خامخا راځي.

❻ پر انسان باندي چي کومه اساني او سختي راځي دا ټول د الله ﷻ له طرفه دي.

❼ دمرګ وروسته بيا ژوندي کېدل، په هغه کښي به د دنيا دژوند په اړه حساب او کتاب وسي، دهغه وروسته به د جنت يا د دوزخ فيصله وسي.

www.jamairahmani.org

# دوهم سبق: د رسول الله ﷺ د ژوند په هکله

**سوال:** نبي چاته ويل کيږي ؟

**جواب:** نبي هر هغه ذات ته ويل کيږي، کوم ته چي الله ﷻ خپل شريعت ورکړی وي او د خلکو طرفته ته يي ليږلی وي.

**سوال :** د اول نبي نوم بيان کړئ ؟

**جواب :** تر ټولو اول نبي حضرت آدم عليه السلام دی .

**سوال:** ترټولو آخري نبي څوک دی ؟

**جواب:** تر ټولو آخري نبي حضرت محمد ﷺ دی.

**سوال:** آيا د حضرت محمد ﷺ څخه وروسته بل پيغمبر راځي او که يا؟

**جواب:** حضر ت محمد ﷺ د الله ﷻ آخرنی نبي دی د حضرت محمد ﷺ څخه وروسته به تر قيامته پوري بل نوی نبي نه راځي د حضرت محمد ﷺ څخه وروسته چي څوک د نبوت دعوه وکړي هغه دروغجن دی.

**سوال :** د حضرت محمد ﷺ دپلار نوم راوښياست؟

**جواب :** د حضرت محمد ﷺ دپلار نوم عبدالله دی .

**سوال :** د حضرت محمد ﷺ د مور نوم را وښياست؟

**جواب :** د حضرت محمد ﷺ د مور نوم بي بي آمنه ده .

www.jamairahmani.org

**سوال :** د حضرت محمد ﷺ نسب نامه راته بيان کړئ.
**جواب :** د حضرت محمد ﷺ نسب نامه د پلار له طرفه په لاندې ډول ده: حضرت محمد ﷺ بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف ابن قُصى بن کلاب بن مره بن کعب بن لؤى بن غالب بن فهر بن مالک بن نضر بن کنانه بن خزيمه بن مدرکه بن الياس بن مضر بن نضار بن معد بن عدنان.
**سوال :** د حضرت محمد ﷺ ټول عمر څوکالو وو ؟
**جواب :** حضرت محمد ﷺ ټول عمر دروشپېته (٦٣) کاله وو.
**سوال :** د حضرت محمد ﷺ څو بيبياني وې د هغو نومونه بيان کړى؟
**جواب :** د حضرت محمد ﷺ يوولس بيبياني وې د هغو نومونه دادي:
❶ حضرت خديجه رضي الله عنها ❷ حضرت سوده رضي الله عنها ❸ حضرت عايشه رضي الله عنها ❹ حضرت حفصه رضي الله عنها ❺ حضرت زينب رضي الله عنها ❻ حضرت ام سلمه رضي الله عنها ❼ حضرت زينب بنت جحش رضي الله عنها ❽ حضرت ميمونه رضي الله عنها ❾ حضرت جويريه رضي الله عنها ❿ حضرت ام حبيبه رضي الله عنها ⓫ حضرت صفيه رضي الله عنها.
**سوال :** د حضرت محمد ﷺ څو لوڼې وې ؟
**جواب :** د حضرت محمد ﷺ څلور لوڼې وې چې نومان يې دغه دي: ❶ حضرت فاطمه رضي الله عنها ❷ حضرت زينب رضي الله عنها ❸ حضرت رقيه رضي الله عنها ❹ حضرت ام کلثوم رضي الله عنها.

www.jamairahmani.org

**سوال :** د حضرت محمد ﷺ دزومانو نومونه بيان کړی؟

**جـواب :** حضـرت علـی رضي الله عنه چـي د بـي بـي فاطمـةالزهراء رضي الله عنها خاونـد ؤ، حضـرت ابوالعـاص بـن الربيـع رضي الله عنه چـي د بـي بـي زينب رضي الله عنها خاوند ؤ، حضرت عثمان ذي النورين رضي الله عنه چي د بي بي رقيه رضي الله عنها او ام کلثوم رضي الله عنها خاوند ؤ. دا خبره ياد وساتی چي حضرت عثمان رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ د دوو لوڼو سره نکاح کړيده.

**سوال:** حضرت عثمان رضي الله عنه ته ذوالنورين ولي ويل کيږي ؟

**جواب :** ځکه چي د حضرت محمد ﷺ دوې لوڼي يی په نکاح سوي وې.

# دريم سبق: دالله جل جلاله ددوستانو ملائيکو او انسانانو په هکله

**سوال:** د ملائيکو شمېر څو دی ؟

**جواب :** د ملائيکو شمېر يوازي الله جل جلاله ته ښه معلوم دی .

**سوال:** ملائيکي څه ته وايی ؟

**جـواب:** ملائيکـي د الله جل جلاله يـو نـوراني مخلـوق دی چـی د الله جل جلاله هر حکم مني او د يوه حکم څخه هم سرغړونه نه کوي.

**سوال:** د څلورو غټو ملائيکو نومونه راته وښياست ؟

**جواب :** د څلورو غټو ملائيکو نومونه دادي:

❶ حضرت جبرئيل عليه السلام

❷ حضرت عزرائيل عليه السلام

www.jamairahmani.org

❸حضرت ميکائيل عليه السلام
❹حضرت اسرافيل عليه السلام
**سوال:** ددغو ملائيکو کار څه دی ؟
**جـواب :** د حضـرت جبرايـل عليه السلام کـار دالله جل جلاله پيغامونـه او حکمونه وانبياؤ عليهم السلام ته رسول دي.
دحضرت عزرايل عليه السلام کار دهر ژوندي شي روح اخيستل دي، دحضرت ميکايـل عليه السلام کـار و مخلـوق تـه روزي رسـول اوبـاران اودا ډول نـور کارونـه کـول دي، حضـرت اسـرافيل عليه السلام بـه د قيامت په ورځ شپيلۍ پوکړي.
**سوال:** د څلورو غټو کتابونو نومونه را وښياست ؟
**جواب :** د څلورو غټو کتابونو نومونه دادي:
❶ تورات ❷زبور ❸انجيل ❹قرآن مجيد
**سوال:** دا کتابونه پرکومو نبيانو نازل سوي دي ؟
**جـواب :** تـورات پـر حضـرت موسـی عليه السلام، زبـور پر حضـرت داود عليه السلام ، انجيـل پر حضـرت عيسـی عليه السلام ، قـرآن مجيـد پر حضرت محمد عليه السلام باندي نازل سوی دی.
**سوال:** د څلو رو خلفاوو نومونه وښياست ؟
**جواب:** اول خليفه حضرت ابـوبکر صديق رضي الله عنه او دوهم خليفـه حضرت عمر رضي الله عنه دريم خليفـه حضرت عثمـان رضي الله عنه څلورم خليفـه حضرت علي رضي الله عنه دی .
**سوال:** دڅلورو امامانو نومونه وښياست ؟

**جواب :** ❶ حضرت امام ابو حنيفه رحمة الله عليه ❷ حضرت امام مالک رحمة الله عليه ❸ حضرت امام شافعی رحمة الله عليه ❹ حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه دي .

**سوال:** د فقهي شريفي زده کړه کوم فضيلت لري ؟

**جواب :** نبي کريم ﷺ فرمايي د کوم بنده سره چي الله جل جلاله د ښه کولو اراده وکړي نو هغه ته فقه يعنی د دين پوهه ورکوي.

**سوال:** د حديث د شپږو صحيح او مشهوره کتابونو نومونه را وښيا ست ؟

**جواب :** ❶ بخاري شريف ❷ مسلم شريف ❸ ترمذي شريف ❹ ابو داود شريف ❺ سنن ابن ماجه شريف ❻ نسائي شريف .

**سوال:** حديث څه ته وائي ؟

**جواب :** د رسول الله ﷺ کار او خبري حديث بلل کيږي.

**سوال:** صحابي چاته ويل کيږي؟

**جواب :** صحابی هغه چاته ويل کيږي چي رسول ﷺ يې د ايمان په حالت کښي ليدلی يا ورسره کښېنستلی وي او د ايمان په حالت کښي وفات سوی وي.

**سوال:** د هغو لسو صحابه کرامو نومونه را وښياست چي د جنت زيری پرسوی دی ؟

**جواب :** د هغو نومونه دا دي:

❶ حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه ❷ حضرت عمر رضي الله عنه ❸ حضرت عثمان رضي الله عنه ❹ حضرت علی رضي الله عنه ❺ حضرت عبد الرحمن بن

www.jamairahmani.org

عوف رضي الله عنه ❻ حضرت طلحه بن زبير ❼ رضي الله عنه حضرت زبير بن العوام رضي الله عنه ❽ حضرت ابو عبيده رضي الله عنه ❾ حضرت سعد بن وقاص رضي الله عنه ❿ ا حضرت سعيد بن زيد رضي الله عنه

**سوال:** دغو صحابه کرامو ته څه ويل کيږی ؟

**جواب :** دوي ته عشره مبشره ويل کيږي ځکه چي پر دغو لسو صحابه کرامو باندي په دنيا کښي د جنت زيری سوی دی.

## څلورم سبق: دقران کريم په هکله

**سوال:** قرآن شريف څه ته وائي ؟

**جواب :** قرآن شريف د الله جل جلاله هغه کتاب دی چي پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندي يې نازل کړی دی.

**سوال:** دقرآن کريم نازيلېدل په کوم ځای کښي شروع سول ؟

**جواب :** په مکه معظمه کښي په غار حرا کښې .

**سوال:** دقرآن شريف څو پارې دي؟

**جواب :** ديرش ٣٠ پارې.

**سوال:** دقرآن شريف څو سورتونه دي ؟

**جواب :** په قرآن شريف کښي يوسل او څورلس (١١۴) سورتونه دي.

**سوال:** دقرآن شريف څو رکوعاتي دي ؟

**جواب :** دقرآن شريف پنځه سوه اووه پنځوس (۵۵٧) رکوعاتي دي.

**سوال:** په قرآن شريف کښي څو اياتونه دي؟
**جواب:** شپږ زره شپږسوه شپږشپيته (۶۶۶۶).
**سوال:** قرآن شريف په څومره موده کښي نازل سو؟
**جواب:** په درويشت (۲۳) کاله کښي نازل سو.
**سوال:** آيا ټوله قرآن شريف په يو وار سره نازل سو ؟
**جواب:** يا بلکه لږلږ دضرورت په اندازه نازليدی.
**سوال:** په قرآن شريف کښي د تلاوت سجدې څودي؟
**جواب:** څوارلس ۱۴ دي.
**سوال:** د سجده تلاوت څه مطلب دی ؟
**جواب:** د سجده تلاوت مطلب دادی چی په قرآن شريف کښي څوارلس ۱۴ آياتونه داسي سته چي دهغو په لوستولو سره سجده واجبيږي.
**سوال:** د سجده تلاوت څه طريقه ده ؟
**جواب:** د آيت دلوستلو څه وروسته به د اوداسه په حالت کښي مخ پر قبله ودريږي او د الله اکبر په ويلو سره به سجدې ته ولاړسي او دتسبيحاتو د ويلو څخه وروسته به الله اکبر ووايی بس سجده تلاوت پوره سوه.
**سوال:** هغه کوم اياتونه دي چي تر ټولو اول نازل سول؟
**جواب:** دسورت العلق اولني آياتونه: اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ ①
**سوال:** هغه کوم اياتونه دي چي تر ټولو اخري نازل سول ؟

www.jamairahmani.org

**جواب:** هغه دغه اياتونه دي: اَلۡيَوۡمَ اَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِيۡنَكُمۡ وَاَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِيۡ وَرَضِيۡتُ لَكُمُ الۡاِسۡلَامَ دِيۡنًا

# پنځم سبق: داسلامی کلیزی په هکله

**سوال:** اسلامي كال په كوم نامه سره يادېږي ؟

**جواب:** اسلامي كال ته هجري كال ويل كيږي .

**سوال:** دهجري كال څه مطلب دی ؟

**جواب:** يعنی په كمه ورځ چي رسول الله ﷺ دمكي معظمې څخه مدينې منورې ته هجرت وكړی دهغې ورځي څخه شروع سوی دی.

**سوال:** اسلامي مياشتي څودي ؟

**جواب:** دوولس (۱۲) دانې دي .

**سوال:** داسلامي مياشتو نومونه څه دي ؟

**جواب:** داسلامی مياشتو نومونه دادي:

❶محرم الحرام ❷ صفر المظفر ❸ ربيع الاول ❹ربيع الثاني ❺جمادی الاول ❻ جمادی الثاني ❼رجب المرجب ❽شعبان المعظم ❾رمضان المبارک ❿شوال المكرم ⓫ذی القعدة ⓬ذی الحجة .

**سوال:** اسلامي مياشتي د كومي مياشتي څخه شروع كيږي ؟

**جواب:** د محرم د مياشتی څخه .

www.jamairahmani.org

**سوال:** د اسلامي تاريخ په ياد ساتلو څه حکم دی ؟
**جواب :** د اسلامي تاريخ په ياد ساتل فرض کفايي دی .
**سوال:** پر مسلمانانو باندې په کومه مياشت کښې روژه نيول فرض ده ؟
**جواب :** د رمضان په مياشت کښې .
**سوال:** عيد الاضحی څه ته ويل کيږي ؟
**جواب :** د ذی الحجې پر لسمه چې کوم اختر وي هغه ته عيد الاضحی وايي .
**سوال:** د واده او همدا راز د نورو اسلامي پروګرامونو تاريخ اسلامي تاريخ ته کل پکار دي او که انګريزي؟
**جواب :** مسلمانانو ته پکار ده چې خپل په کاروکښې اسلامي تاريخ وټاکي البته د ډېر او ښه معلومېدو د پاره انګريزي تاريخ هم ليکلای سي.

# شپږم سبق : دسنت او بدعت په هکله

**سوال:** سنت څه ته وائي ؟
**جواب :** د دين کومه خبره چې د رسول الله ﷺ او يا د خلفا راشدينو څخه ثابته وي خو فرض او واجب نه وي هغې ته سنت ويل کيږی .

**سوال:** بدعت څه ته وايي ؟

**جواب:** ددين كومه خبره چې رسول الله ﷺ او د خلفاء راشدينو څخه ثابته نه وي هغه ددين كار بلل او د ثواب په اميد سره كول بدعت بلل كيږي .

**سوال:** دبدعت په هكله رسول الله ﷺ څه فرمايلي دي ؟

**جواب:** رسول الله فرمايلي دي چاچي زموږ په دغه دين كښې يعني دين اسلام كښې يوه داسي نوې خبره راويستله چي هغه خبره د دين حصه نه وي نو هغه خبره د قبليدو وړ نه ده .

**سوال:** عبادت څه ته وايي ؟

**جواب:** الله تعالى ﷻ چي د كومو كارونو د كولو حكم كړى دى دهغو كول او دكومو څخه چې يې منع كړيده دهغوی څخه منع كيدل عبادت بلل كيږي .

**سوال:** ګناه څه ته وايي ؟

**جواب:** د الله تعالى ﷻ نافرمانۍ ته ګناه وائي.

**سوال:** فرض عين څه ته وايي ؟

**جواب:** فرض عين هر هغه حكم ته وايي دكوم پوره كول چي پرهريوه نر او ښځي باندي لازمي او ضروري وي .

**سوال:** فرض كفايي څه ته وايي ؟

**جواب:** فرض كفايه هغه فرض ته ويل كيږي چې د ځينو مسلمانانو په كولو سره دټولو ذمه داري ساقطه سي او غاړي

www.jamairahmani.org

يې خلاصي سي اوکه يي هيڅ څوک هم ونه کړي نو ټول به ګنهګاره سي لکه د جنازې لمونځ .

# اووم سبق : دقيامت په هکله

**سوال:** قيامت څه ته وائي؟

**جواب :** الله تعالی ﷻ د ټولي نړۍ د فناکولو وروسته ټول انسانان او حيوانان دوهم وار را ژوندي کوي او په يو ميدان کښې يې جمع کوي او ددوي په مېنځ کښي به فيصله کوي دغه دوهم وار ژوندي کولو ته قيا مت ويل کيږي .او دغه ميدان ته ميدان حشر ويل کيږي .

**سوال:** دقيامت دورځي دفيصلې کولو څه مطلب دی ؟.

**جواب :** انسان چي په دنيا کښې څومره ښه او بدعملونه کوي هغه ملائيکي ليکي هغه عملونه الله تعالی ﷻ خپل مخي ته کښيږدي اود هغوی مطابق فيصله کوي دښه اعمالود کوونکي دپاره به جنت اود بدوا عمالود کونکي دپاره به د دوږخ فيصله کوي دې ته دقيامت دورځي فيصله ويل کيږي .

**سوال:** جنت څه ته ويل کيږي ؟

**جواب :** الله تعالی ﷻ دخپله طرفه څخه دخپلو نيکو بندګانو دپاره يوډير ښه دارام او راحت ځای جوړ کړی دی هغه ځای ته جنت ويل کيږي .

www.jamairahmani.org

**سوال:** دوږخ څه ته ويل کيږي ؟

**جواب :** الله تعالى ﷻ دخپل نافرمانه او کافرانو بنده ګانو دپاره يو ډير سخت دعذاب او مشقت ځاى جوړ کړى دى هغه ځاى ته دوږخ ويل کيږي .

**سوال:** پل صراط څه ته وايي ؟

**جواب :** پر دوږخ باندى لوړ يو پُل دى چي د قيامت په ورځ به هر کس پر تيريږي هغه پُل ته پُل صراط ويل کيږي .

**سوال:** پس له مرګه به دانسان څخه کوم سوالونه کيږي ؟

**جواب :** پس له مرګه به په قبر کښي دا سوالونه کيږي .

❶ ستارب څوک دى ؟

❷ ستا دين څه دى ؟

❸ ستا نبي څوک دى ؟

**سوال:** د قبر د ژوند څه نوم دى ؟

**جواب :** د قبر ژوند ته (عالم برزخ) ويل کيږي .

**سوال:** په قبر کښي به د پوښتنو څخه وروسته څه کيږي ؟

**جواب :** زموږ پيغمبر ﷺ فرمايلي دي څوک چي د دغو پوښتنو سم او درست جواب ورکړي هغه ته به د جنت څخه يو کلکين را خلاص سي او څوک چي غلط جواب ورکړي پر هغه باندى به د دوږخ څخه يو کلکين را خلاص سي .

**سوال:** په قبر کښي تر کومه وخته اوسيدل وي ؟

**جواب :** تر قيامته پوري .

www.jamairahmani.org

# اتم سبق: داسلام دارکانو په هکله

**سوال:** داسلام څو ارکان دي او هغه کوم کوم دي ؟ .

**جواب:** داسلام پنځه ارکان دي او هغه دا دي :

❶ دالله تعالی ﷻ د یووالي او د رسول الله ﷺ د رسالت او نبوت شاهدي ورکول: (مطلب دا چي الله ﷻ یو دی او نبي کریم ﷺ دالله ﷻ رسول او پیغمبر دی . ❷ پنځه وخته لمونځ ❸ د رمضان المبارک روژه نیول ❹ د خپل مال زکات هر کال اداء کول ❺ د کعبې شریفي حج کول.

**سوال:** د توحید او رسالت د شاهدۍ د ورکولو څه مطلب دی؟

**جواب:** دالله ﷻ د یو کېدلو عقیده لرل او دا چي نبي کریم ﷺ دالله ﷻ رسول دی دا په زړه سره تسلیمول او په خوله سره د هغه اقرار کول دې ته توحید او رسالت وایي .

**سوال:** لمونځ څه ته وایي ؟

**جواب:** لمونځ په یو خاص طریقه سره دالله ﷻ عبادت او بندګي کولو ته وایي .

**سوال:** روژه څه ته وایي ؟

**جواب:** د سهار د سپېدو څخه نیولې بیا د لمر تر لوېدو پوري د روژې په نیت سره د خوراک څښاک او جماع څخه ګرځېدلو ته روژه ویل کیږي .

**سوال :** روژه په کومه مياشت کی نيول کيږي ؟
**جواب :** د رمضان المبارک په مياشت کښي.
**سوال :** زکوة څه ته وايي ؟
**جواب :** زکوة دې ته وايي چي سړی خپل د مال څلوېښتمه حصه په کال کښې يو وار و يو مسکين ته ورکړي او مسکين د هغه مال مالک جوړ کړي .
**سوال :** حج څه ته وايي ؟ .
**جواب :** د ذي الحجې په مياشت کښي و بيت الله ته تلل او په مخصوصو ورځو کښي د يو څو مخصوصو افعالو کولو ته حج وايي .
**سوال :** د مسلمانانو د اولنۍ قبلې نوم را وښياست ؟ .
**جواب :** بيت المقدس .
**سوال :** د مسلمانانو د اوسنۍ قبلې نوم څه د ی ؟
**جواب :** کعبه شريفه .
**سوال :** په شپې او ورځي کښي پر انسان باندي څو لمونځونه فرض دي ؟ او کوم کوم دي ؟
**جواب :** پنځه لمونځونه فرض دي او هغه دا دي ❶ سهار ❷ ماپښين ❸ مازديګر ❹ ماښام ❺ ماخستن.
**سوال :** د پنځو لمونځونو رکعتونه په څه ډول دي ؟

**جواب :** د سهار لمونځ څلور ركعته دى دوه سنت او دوه فرض، دماپښين لمونځ دوولس ركعته دي اول څلور سنت بيا څلور فرض بيا دوه ركعته سنت بيا دوه ركعته نفل ، د مازديګر لمونځ اته ركعته دى اول څلور ركعته نفل بيا څلور ركعته فرض، د ماښام لمونځ اووه ركعته دى اول درې فرض بيا دوه ركعته سنت بيا دوه ركعته نفل ، او دماخستن لمونځ ديارلس ركعته دى اول څلور ركعته نفل بيا څلور ركعته فرض بيا دوه ركعته سنت بيا درې ركعته وتر واجب .

**سوال :** واجب لمونځونه كوم كوم دي ؟

**جواب :** وتر او د اخترو لمونځونه واجب لمونځونه دي.

**سوال:** فرض كفايي لمونځونه كوم كوم دي ؟

**جواب :** دمړي لمونځ .

# داوداسه فرضونه

**سوال :** په اوداسه كښې څو او كوم كوم فرضونه دي ؟

**جواب :** داوداسه څلور فرضونه دي: ❶ دمخ پرېولل دتندي دوربښتانو څخه نيولې بيا دزني ترلاندنۍ حصې پورې . ❷ دواړه لاسونه تر بندونو پورې پرېولل ❸ دسر مسح كول ❹ دواړي پښې د بجلكو سره پرېولل .

# دغسل فرضونه

**سوال :** په غسل کښي څو فرضونه دي او کوم کوم دي ؟

**جواب :** دغسل درې فرضونه دي : ❶ په ډکه خوله سره اوبه لغړول ❷ د پزې تر نرمکي پوري اوبه رسول ❸ پر ټول بدن په داسي طريقه سره اوبه تېرول چي د يوه وړېښته برابر ځاى هم وچ پاته نه سي .

# د مړي د لمانځه بيان

**سوال :** دجنازې لمونځ څه ته وايي ؟

**جواب :** کله چي يو مسلمان مړ سي نو دهغه د ښخولو څخه دمخه د مړي دبخښني دپاره بېله رکوع او سجدې څخه د څلورو تکبيرو سره لمونځ کيږي هغه ته دجنازې لمونځ ويل کيږي.

**سوال :** دجنازې د لمانځه نيت څنګه کيږي ؟

**جواب :** نيت به داسي کوي چي ددغه امام په اقتدا کښي ددغه مړي لمونځ کوم پس له دې به الله اکبر ووايي او لاسونه به وتړي.

**جواب :** د جنازې دلمانځه اداء کولو څه طريقه ده ؟

**جواب :** دا مام سره چي په لمونځ کښي شريک سې پس له تکبيره به ثنا (سبحانک اللهم) ووايې او د دوهم تکبير وروسته به درود شريف ووايې او د دريم تکبير وروسته به

دمړي دعا ووايې او دڅلورم تکبير وروسته به دواړو خواووته سلام وګرځوې.

**سوال :** د جنازې د لمانځه دعا راوښياست؟

**جواب :** که مړى بالغ وي نو دغه دعا ووایاست: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَآئِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا ط اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَى الْاِسْلَامِ ط وَمَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الْاِيْمَانِ ط

او که نابالغه هلک وي نو دي دا دعا ووايې: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَآ اَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّ اجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّ مُشَفَّعًا ط

او که نابالغه انجلۍ وي نو دي دا دعا ووايې: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهَا لَنَآ اَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّ اجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَةً ط

## نهم سبق: دلمانځه دکولو طريقه

**سوال :** دلمونځ کولو طريقه څه ده؟

**جواب:** دلمانځه داداء کولو مکمله طريقه داده چې کله يو انسان دلمانځه داداء کولو اراده وکړي نوبايد پاک کالي واغوندي اودس دي وکړي تر اوداسه کولو وروسته دي پر يو پاک ځاى مخ پر قبله ودريږي په داسي حال کښې چې د دواړو پښو ګوتي يې د قبلې وخوا ته سيده وي بيا به دلمانځه نيت کوي (مثلاً نيت مي

www.jamairahmani.org

دی دزړه په اخلاص لمونځ کوم دوه رکعته فرض دسهار)بیا به الله کبر ووايي اودواړه لاسونه به ترغوږوپوري په داسي شان سره پورته کړي چي ګوتي به یی خلاصي وي او ورغوی به یي مخ پر قبله وي بیا به دواړه لاسونه ترنامه لاندي داسي وتړي چي چپه لاس یې لاندي اوراسته لاس یي سربیره وي اودراسته لاس په خچنه او بټه ګوته سره به دچپه لاس مړوند ونیسي نوري دري ګوتي دي پرچپه لاس کنبیږدي بیادي ثناووايي:(سُبۡحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمۡدِكَ وَتَبَارَكَ اسۡمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيۡرُكَ ط)بیابه اعوذ بالله ووايي(اَعُوۡذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ)او بیا به تسمیه (بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ)ووایي بیادي الحمد الله اودهغې سره یو سورت ووایي هرسورت چي ورته اسانه وي بیا دي الله اکبر ووايي اورکوع ته دي ولاړسي په رکوع کښي به یې سر او ملا سره برابره وي اوځنګونه به خپل په لاسو ټینګ ونیسي په رکوع کښي به پنځه یا دري واره (سُبۡحَانَ رَبِّيَ الۡعَظِيۡمِ) ووايي بیا به (سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنۡ حَمِدَهٗ) ووايي او سیده به ودریږي (رَبَّنَالَكَ الۡحَمۡدُ) به ووایی. بیا به (اَللّٰهُ اَكۡبَرُ) ووایی اوسجدې ته به داسي ولاړسي چي کوږ نه سي بلکي سیده به ځي اول به ځنګونه بیا به لاسونه بیا تندی اوبیادي پزه پرمځکه کښیږدي دواړه لاسونه به په مځکه باندي داسی ایږدي چه ګوتي یې سره

موښتي وي او تندى به يې د دواړو لاسونو په مينځ کښې پروت وي
په سجده کښې به درې واره يا پنځه واره (سُبۡحَانَ رَبِّیَ الۡاَعۡلٰی)
ووايي بيا دي (اَللّٰهُ اَکۡبَرُ) ووايې او سيده به کښېني دوهم وارى
به (اَللّٰهُ اَکۡبَرُ) ووايي او سجده به وکړي بيا به (اَللّٰهُ اَکۡبَرُ) ووايي
او دوهم رکعت ته به ولاړيږي (بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ) دي
ووايي او (اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ) او سورت به ووايي بيا به رکوع او سجدې
د اول رکعت په شان وکړي کله چې د دوهم رکعت دوهمه سجده
وکړي نو به کښېني راسته پښه به ودروي او پرچپه پښه به
کښېني د دواړو پښو د ګوتو سرونه به يې مخ پر قبله وي بيا به
تشهد ووايي (اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰةُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيۡكَ
اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحۡمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ ط اَلسَّلَامُ عَلَيۡنَا وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰهِ
الصّٰلِحِيۡنَ ط اَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط وَاَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ
وَرَسُوۡلُهٗ) چه (اَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ) ته ورسيږي نو به ګوتې سره
راټولي کړي په دې ډول سره چه خچنه او دهغې سره د بغل ګوته
دي بنده کړي د بټې او د مابين د ګوتې څخه دي حلقه جوړه کړي
بيا دي د شهادت ګوته پر (لَّآ اِلٰهَ) باندې لړپورته کړي او
(اِلَّا اللّٰهُ) باندې دي کښته کړي او تر اخره پورې دې موټی
پرخپل حال باندې پرېږدي بيا به درود شريف (اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی

www.jamairahmani.org

مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ۝ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ۝) بيا دي دعا ووايي (اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ط) بيا به (اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ) ووايي او راسته خوا ته دي مخ وګرځوي بيا دي (اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ) ووايي او چپه خوا ته دي مخ وګرځوي نو به دوه رکعته پوره سي که چيري درې يا څلور رکعتيزه لمونځ وي نو دي پر دوهم رکعت کښېني (التحياته اوتشهد) دي ووايي بيا دي اَللّٰهُ اَكْبَرُ ووايي او دريم رکعت ته دي ولاړ سي دريم او څلورم رکعت دي وکړي بيا دي د څلورم رکعت د دوهمې سجدې وروسته کښيني او په ذکر سوي طريقې دي خپل لمونځ پای ته ورسوي د سلام وروسته دي دا دعا وکړي (اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَاذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ) او د دې څخه علاوه چي يې کومه دعا مناسبه وبلله هغه دي ووايي دعا دي په انتهايي توجه او د قبوليت په اميد سره وکړي.

www.jamairahmani.org

# دښځي اود نر په لمانځه کښې فرقونه

**سوال :** دلمانځه کومه طريقه چي ذکر سوله ايا ښځه به هم داسي لمونځ کوي لکه نر چي يې کوي ؟ .

**جواب :** دښځو دلمانځه داداء کولو طريقه هم دغه ده البته په يو څو ځايو کښي توپيرسره لري چي هغه دادي:

❶ دتکبيرتحريمې په وخت کښي ونارينه ته دڅادر يا بلي جامي څخه لاسونه را ايستل ترغوږوپوري پورته کول پکار دي ليکن ښځي دي په هيڅ حال کښي لاسونه ترجامو نه راباسي بلکه تراوږو پوري دي پورته کوي ❷ دتکبيرتحريمې وروسته دي نارينه خپل لاسونه ترنامه لاندي اوښځي دي پرسينه وتړي . ❸ ونارينه لره پکار ده چي دراسته لاس دکوچني اوبټي ګوتي څخه حلقه جوړه کړي او دچپه لاس مړوند په ونيسي اوپاته دري ګوتي دي دچپه لاس پرلندی باندي دغسي وغزوي اوښځولره پکار ده چي دراسته لاس خپره دي دچپه لاس پرخپره باندي کښيږدي. دنارينوؤو په څېر دي حلقه نه جوړوي چي چپه لاس په ونيسي . ❹ نارينه دي په رکوع کښي ښه کښته کيږي ترڅوچي ملااوسرئي سره برابرسي اوښځي دي دومره کښته کيږي چي لاسونه وزنګنوته ورسوي. ❺ ونارينه ؤوته په رکوع کښي په پراخه ګوتوسره زنګنونه نيول پکار دي، اوښځي دي په جفتوګوتوباندي خپل

زنګنونه ونيسي . ❻ و نارينوؤ لره ثنګلي د بغل څخه د رکوع په حالت کښي د بازوګانو ليري کول پکار دي او ښځوته سره نښلول پکار دي . ❼ و نارينوؤ ته په سجده کښي نس د ورنو څخه او بازو د بغل څخه ليري کول پکار دي او وښځوته نښلول پکار دي . ❽ په سجده کښي به د نارينوؤ ثنګلي د مځکي څخه پورته وي او د ښځو ثنګلي به پر مځکه باندي پرتې وي .
❾ و نارينوو ته په سجده کښي د دواړو پښو ګوتي جګي د رول پکار دي ليکن ښځي دي دواړي پښي وراسته خوا ته وباسي .
❿ و نارينوو ته د ناستي په حالت کښي پر چپه پښه کښېنستل پکار دي او د راستې پښې ګوتي دي ودروي، او ښځي دي دواړي پښي وراسته خواته وباسي او کښېږدي ني.
⓫ وښځوته هيڅ وخت په لوړ اواز د قرائت ويلو اختيار نسته بلکه هروخت دي په کښته اواز سره قرائت وايي د نارينوو دلپاره په بعضو حالاتو کښي په لوړ اواز سره قرائت ويل واجب دی او په بعضي حالاتو کښي جائز دی.

## لسم سبق: دسلام داحکامو بيان

**سوال :** د سلام کولو څه حکم دی ؟

**جواب :** کله چي يو مسلمان د بل مسلمان وروړ سره ملاقات او کتنه کوي نو په هغه وخت کښي السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ويل زمونږ د خوږ پيغمبر ﷺ سنت دی .

**سوال :** دسلام كولو څه ګټه ده ؟

**جواب :** دسلام په كولو سره انسان ته ډير ثواب ورپه برخه كيږي اوپه خپل مينځ كښې مينه لا زياتيږي.

**سوال :** دسلام كولو سمه طريقه څنګه ده؟

**جواب :** دسلام كولو سمه طريقه داده چې د يو مسلمان سره كله ملاقات وي نو دي په ژبه سره (السلام عليكم ورحمة الله وبركاته) ووايي يوازې په لاس سره اشاره كول يا دژبې د ويلو سره سره په لاس سره اشاره كول نه ده صحيح، البته كه چيري هغه كس چي سلام ورته كيږي ليري وي نو سلام دې په ژبه سره ضرور وكړل سي اوپه لاس سره دي هم اشاره وسي.

**سوال :** دسلام د جواب وركولو څه حكم دى ؟

**جواب :** سلام كول سنت دى او جواب يې وركول واجب دي كه چيري جواب ورنه كړل سي نو ډيره ګناه ده .

**سوال :** ماشومانو ته دسلام پر ځاى هاي هاي كول څنګه دي ؟

**جواب :** داد غير مسلمينو طريقه ده ماشومان په دې باندي عادت كول نه دي صحيح .

**سوال :** درخصتېدو په وخت كښې (دخداى په امان ) ويل څنګه دي ؟

**جواب :** داد سنت خلاف دي درخصت په وخت كښې هم (السلام عليكم ورحمة الله وبركاته ) ويل سنت دي البته كه

(خدای په امان ) الفاظ فقط ددعا دپاره ووايې نو بيا صحيح دی پروا ه نه لري .
**سوال :** وکور ته دننوتلو په وخت کښي دسلام کولو طريقه څه ده ؟
**جواب :** وکور ته دننوتلو په وخت کښي پکار داده چي دکور دننوتلو سنت دعا وويل سي اوبيا دي دکور وغړو ته (السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته )ووايی او که کور خالي وي نو دي (السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين ) ووايي.
**سوال :** روغبړ په يوه لاس کيږي او که په دواړو لاسونو ؟
**جواب:** روغبړ او مصافحه په دواړولاسونو سره کول سنت دی .

## يولسم سبق :دژوند د ادبونو په بيان کښي

**سوال :** پر اولاد باندي دمور او پلار څه حقوق دي ؟
**جواب :** پر اولاد باندي دمور او پلار ډېر حقوق دي : چي تفصيل يي الله ﷻ په قرآن کښي اونبي کريم ﷺ په احاديثو کښي بيان کړي دي . خلاصه يې داده چي دهغوی خبري و منل سي او دهغوی دنافرمانۍ څخه ځان وساتل سي دهغو لپاره دي ښه اونيکي دعاوي وکړل سي دهغوی هر قسم خدمت دي وکړل سي اوهيڅ يو قسم تکليف بايد ورنه کړل سي .
**سوال :** مور اوپلار ته تکليف رسوونکي خبري کومي کومي دي ؟

**جواب :** دهغوی خبري نه منل او ګام پر ګام جوابونه ورکول که يي اولاد ديوکار څخه راګرځولی وي دهغو په مخکښي يا دهغوی په نه موجودګی کښي هغه کار کول، دکوريو شئ دهغوی د اجازت څخه بغير دباندي ايستل او بل چاته ورکول، په لمانځه او سبقه کښې سستي کول دغه شيان هغوی ته تکليف او ازار رسوونکي دي .

**سوال :** هغه کومي خبري دي چی مور اوپلار په خوشحاله کيږي ؟

**جواب :** دمور او پلار هر قسم اطاعت او فرمانبرداري کول، دهغوی خدمت کول ، په سبقانو کښي کوښښ کول ، د لمانځه او روژو پابندي او اهتمام کول ، دکور مشران مثلاً دنيکه اکا ماما او د مشرانو وړونو عزت کول دوړونو اوخوندو سره مينه کول اوهم دا رازنوري ښه خبري دي چي مور او پلار په خوشحاله کيږي .

**سوال :** پر شاګردانو باندي داستاذانو څه حقوق دي ؟

**جواب :** استاذ هم دمور اوپلار په شان دی نو ځکه داستاد بايد ډير احترام او ادب وسي او دهغه خبري ومنل سي او هميش دهغوی دپاره دعاء کول په کار دي .

**سوال :** دمور او پلار دخبرو دمنلو په هکله يو حديث شريف راوښياست ؟

**جواب :** دنبي كريم ﷺ ارشاد مبارک دی چي دالله تعالی ﷻ خوشحالي دمور او پلار په خوشحالۍ کښې ده او د مور پلار په خوابدي کولو سره الله خوابدی کیږي .

## دولسم سبق : دپاکۍ او نظافت په بیان کښې

**سوال :** دنوکانو پرېکول څنګه دي ؟

**جواب :** دنوکانو پرې کول دنبي كريم ﷺ سنت عمل دی.

**سوال :** دڅوورځو څخه وروسته نوکان پرېکول پکار دي ؟

**جواب :** په هفته کښې يو واري بايد پرې سي او يا په پنځلسو (١٥) ورځو کښې پرې سي تر څلويښتو (٤٠) ورځو زيات پرېښوول يې روا نه دي .

**سوال :** ځيني داسي کسان هم سته چي ديوې ګوتي نوكان پرېږدي او غټوي يې ددې څه حکم دی ؟

**جواب :** دلاسونو او دپښو دټولو ګوتو نوکان پرې کول پکار دي يو نوک پرېښوول او غټول داګناه ده .

## ديارلسم سبق : دلباس او جامو په بيان کښې

**سوال :** اسلامي لباس بايد څنګه وي ؟

**جواب :** لباس بايد داسي وي چي په كامله توګه سره ستر په

پټ‌سي اوداسي تنګ اونری او لنډ نه وي چي دکمو اندامونو پټول لازم دي هغه ښکاره يا انعکاس سي.

**سوال:** ايا ماشومانو ته هم لباس او جامې پاک ساتل ضروري دي ؟

**جواب:** هو ماشومان هم بايد خپل جسم او لباس پاک او صاف وساتي او په لباس کښې دکافرانو او فاسقانو سره تشبه او نقل اختيار نه کړي .

**سوال:** رخچينه او خولۍ پرسر کول دماشومانو لپاره هم سنت دي ؟

**جواب :** هو دسبقه په وخت کښي دلمانځه په وخت کښي او په عامو اوقاتو کښي خولۍ او رخچينه پر سر کول سنت دي ، لڅ سر ګرځېدل او په لڅ سرسره لمونځ کول مکروه دی او داسلامي شعار (عاداتو څخه ) خلاف عمل دی .

**سوال :** نېک ټايي اغوستل څنګه ده ؟

**جواب :** نېک ټايې داسلامي لباس حصه نه ده بلکه دادفاسق او فاجر قسم خلکو لباس دی او دعيسايانو طريقه هم دغه ده .

**سوال :** پايڅې تربجلکو کښته کولو څه حکم لري ؟

**جواب :** نبي کريم ﷺ ددې عمل څخه په سختۍ سره منع کړېده او پر دې باندې ددوږخ د اور سزا اورولې ده او داد کبرجنوا او ګنهګارانو خلکو طريقه ده ددې عمل څخه پرهيز ضروري دی .

**سوال :** دكوچنۍ انجونو او ښځو دپاره دبجلكو پټولو څه حكم دى ؟ .
**جواب :** هغوى ته دپټولو حكم وركول سوى دى دهغو دبجلكو ښكاره كول ګناه ده .
**سوال :** دفيشن او سينګار كولو څه حكم دى ؟
**جواب :** پرمسلمان لازمه ده چي په ټولو كارونو كښي درسول الله ﷺ اتباع وكړي دفيشن او سينګار په توګه دكافرانو نقل او دهغوى سره مشابهت اختيار ول لويه ګناه ده .
**سوال :** ستر څه ته وايي ؟
**جواب :** دبدن هغي حصي ته ستر ويل كيږى چي پټول يي دنورو خلكو څخه شرعاً ضروري وي .
**سوال :** دنرستر تر كومه ځايه پوري دى ؟
**جواب :** دنر ستر دنامه څخه نيولې بيا تر ځنګنونو پوري دى .
**سوال :** دښځو ستر تر كومه ځايه پوري دى ؟
**جواب :** دښځو بدن ټول په ستر كښي داخل دى ماسوا دمخ او ورغووُ او قدمونو څخه ليكن دا حكم فقط دلمانځه دپاره دى او دلمانځه څخه دباندي دمخ پټول هم ضروري دى .
**سوال :** دغير محرم په مخكښي دستر كولو طريقه څنګه ده ؟
**جواب :** دضرورت په وخت كښي چي كله ښځي دكوره څخه وزي نو بايد چي خپل ټول بدن دمخ په شمول په برقع يا بغره كښي پټ كړي. كه دنامحرمو خلكو سره دخبرو كولو ضرورت

پېښ‌سي نو دي په خپل اواز کښې نريوالى او نرموالى نه راولي.

**سـوال :** دلوبو او ساتيري په وخت کښې دستر لځول څنګه دي؟

**جواب :** د لوبو په وخت کښې او هم دا راز بغير دضرورت څخه پر هيڅ موقع باندي ستر لڅول نه دى رواه . البته دضرورت په وخت کښې په اندازه دضرورت دستر دلڅولو ګنجايش او جواز سته.

# څوارلسم سبق: دخوراک او څښاک ادبونه

**سوال :** په ولاړه خوراک اوچيښاک کول څنګه دى ؟

**جواب :** زموږ پيغمبر ﷺ موږ ته تعليم راکړى دى چي موږ په ناسته دبسم الله الرحمن الرحيم په ويلو سره خوراک او چيښاک وکړو په ولاړه سره خوراک او چيښاک د کافرانو طريقه ده .

**سوال :** په چپه لاس خوراک او چيښاک څنګه دى؟

**جواب :** دسنت طريقې څخه خلاف دى او د کبر جنو خلګو طريقه ده .

**سوال :** دډوډى غورځول او ضايع کول څنګه دي ؟

**جواب :** په غاب کښې تر ضرورت زيات شى اچول او بيا يې پرېښوول او ضايع کول ګناه ده . الله تعالى ﷻ اسراف

كوونكي او فضول خرچي كوونكي كسان دشيطان وړونه بللي دي .

**سوال :** دماشومانو دپاره سګريټ او نسوار كول څنګه دي ؟

**جواب :** حضرت مولانا اشرف على تهانوى رحمة الله عليه فرمايلي دي چي د ږيرى دراتلو څخه دمخه ددرو كارونو څخه پرهيز كول ضروري دي ❶ دغټو وريښتيانو پرېښوول ❷ترڅان دلويانو سره دناسته اوولاړه كول. ❸ دنسوارو كول. البته د سګريټو خو بايد خبره لاونه سي ځكه چي دا صحت ته تاوان رسوونكي دي اوتاوان رسوونكى شى حرام دى.

**سوال :** دفيشيني وريښتانو دجوړولو څه حكم دى ؟

**جواب :** دداسى فيشني وريښتانو (چي دمخ دخوا څخه لويان اودشادخوا څخه كوچنيان وي) دجوړولو څخه نبي كريم ﷺ منع كړيده . او په دې كښي دفاسقانو سره مشابهت هم دى .

# پنځم سبق : دګناهونو په بيان كښي

**سوال :** درواغ ويل څنګه دي ؟

**جواب :** درواغ ويل ډيره لويه او غټه ګناه ده او دانسان دهلاكت ذريعه ده .

**سوال :** دمنافق نښانياني كومي كومي دي ؟

**جواب :** زموږ پيغمبر ﷺ دمنافق كس څلور نښانياني بيان كړي دي : ❶ چي خبري كوي نو درواغ وايي ❷وعده

خلافي كوي ❸ په امانت كښې خيانت كوي . ❹ ديو چا سره چي بحث او مباحثه وخبري كوي نو ښكنځل كوي .

**سوال :** كه چيري په كور كښې تلويزون وي نو بايد څه وسي .

**جواب :** دتي وي پروګرامونه يعني ډرامې وغيره كتل په هيڅ صورت كښې نه دي رواه خپله كورنۍ بايد په دې باندې پوه كړئ چي داعذاب دكوره څخه وباسي او كه هغه هم نه وي نو كم تركمه خپله بايد ددې ناسور څخه پرهېز وكړئ .

**سوال :** تلويزون او وي سي آر وغيره كتل څنګه دي ؟

**جواب :** دا اعمال دګناه اعمال دي الله ﷻ په دې سره ناراضه كيږي او دانسان نظر يعني ستركي هم په دې سره خرابيږي لهذا ددې څخه ځان ساتل ډير ضروري دي .

**سوال :** غزلي او موسيقي اوريدل څنګه دي ؟

**جواب :** رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي دغزلو د اوريدلو له وجي په زړه كښې نفاق راپيدا كيږي او ده وفرمايل چي دقيامت په ورځ به دداسي خلكو په غوږو كښې ويلي سوي سرف واچول سي نو ځكه دغزلو او موسيقۍ داوريدلو څخه پرهېز كول ډير ضروري دي .

**سوال :** عكس پخپله اويا په بل چا اخيستل څنګه دی ؟

**جواب :** ډيره لويه او غټه ګناه ده رسول الله ﷺ فرمايي چي دقيامت ورځ به داسي خلكو ته سخته سزا وركول كيږي .

**سوال :** په اخباراتو او مجلو او کتابونو کښې تصويرونه او عکسونه کتل څنګه دي ؟

**جواب :** دا هم ګناه ده دډېر څخه هم بايد د خپلو نظرونو حفاظت وسي .

**سوال :** په وطاقونو يا الماريو يا شوکيزونو کښې عکسونه ايښوول يا ځړول څنګه دي ؟

**جواب :** رسول الله ﷺ فرمايلي دي: په کوم کور کښې چې عکسونه يا دذي روح شيانو تصويرونه وي هغه کورته د رحمت ملائکې نه داخلېږي .

**سوال :** ښکنځل کول او جنګ کول څنګه کار دی ؟

**جواب :** ډېره لويه ګناه ده خلک دداسې کس څخه بد وړي او په ټولنه کښې ورته په ښه سترګه نه کتل کېږي تاسې نه ګورئ چې زموږ پېغمبر ﷺ فرمايي د مسلمانانو ښکنځل په خپل مينځ کښې فسق دی او جنګ کول کفر دی .

## شپاړسم سبق :دلوبو په بيان کښې

**سوال :** لوبي او ساتېرى خپل کسب او دژوند مقصد جوړول څنګه دی ؟

**جواب :** انسان الله تعالى ﷻ د خپل عبادت لپاره پيدا کړى دى نه د لوبو دپاره لهذا لوبي او ساتېرى خپل مستقل مشغله جوړول درست کار نه دى البته د ورزش په نيت سره د شريعت

دحدودو پابندي كه ورسره وسي، نو كه كله كله لوبي او ساتېرى وسي كوم خاص پرواه نه لري .

**سوال :** كه دساتيري پرشيانو باندي عكسونه او تصويرونه وي پرواه لري كه يا ؟.

**جواب :** دهر ژوندي شي عكس او تصوير حرام دى نو ځكه جائز هم نه دى بلكي دساتيري شيان داسي پكار دي چي پر هغو باندي تصويرونه نه وي .

**سوال :** ويډيو ګيمونه كول څنګه دي ؟

**جواب :** دا روا ايښنت نه لري ځكه چي وخت او پيسي دواړه په كښي بربادېږي او د ژوندي شي دعكس دكتلو ګناه لا نوره ده .

**سوال :** دنقلونو دكتابونو لوستل څنګه دي چي اكثره درواغ هم وي ؟

**جواب :** عموماً دنقلونو په كتابونو كښي دشريعت مخالفي خبري وي او د انسان پر اخلاقو بد اثر او اغېزه كوي نو ځكه لوستل او ويل يې نه دي رواه .

**سوال :** په ولاړه سره بولي كول څنګه دي ؟

**جواب :** په ولاړي سره وړې او غتي بولي كول د ډيرو تاوانونو سبب جوړيږي نو نه كول پكار دي .

**سوال :** دقبلې طرف ته مخ يا شا كول بولي او استنجا كول څنګه دى ؟

**جواب :** ګناه لري په حديث شريف کښې د داسي کولو څخه منع راغلې ده .
**سوال :** پر کالو او جسم باندي چي د بولو څڅکان وموښلي څه کول پکار دي ؟ .
**جواب :** سم دستي دي پرېولل سي ولي چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: چي د بولو د څڅکانو څخه ځان وساتئ ځکه چي عموماً دا د قبر د عذاب سبب ګرځي .

## اوو لسم سبق : د څلويښتو حديثونو په هکله

**سوال :** ايا د حديث د ويلو څه فضيلت سته ؟
**جواب :** رسول الله ﷺ د داسي خلګو دپاره دعا کړې ده چي الله ﷻ دي هغه کسان خوښ او خوشحاله وساتي چي زما حديث واوري بيايې په ياد کړي او نورو ته يې ورسوي .
**سوال :** ايا د څلوېښتو حديثو نو د ياد ولو څه فضيلت سته او که يا ؟
**جواب :** هو رسول الله ﷺ فرمايلي دي څوک چي زما امت ته د ګټې رسولو په نيت د دين په هکله څلوېښت حديثونه زده کړي نو به الله تعالى ﷻ هغه د قيامت په ورځ د فقيه (يعني عالم) په شکل کښې راپورته کړي او د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکى ګرځم .

# څلويښت حديثونه

❶ ټوله عملونه دانسان دنيت سره اړه لري . (بخاري ومسلم)
❷ دمسلمان پر مسلمان باندي پنځه حقونه دي .
۱: دسلام جواب ورکول . ۲: پر مريض پوښتنه کول . ۳: د مړي سره تر هديرې پوري تلل. ۴: دمسلمان ست (دعوت) قبلول.
۵: دنږلو جواب په (يرحمک الله) ورکول دي. (بخاري ومسلم)
❸ څوک چي پر خلکو رحم نه کوي الله تعالی ﷻ پر هغه رحم نه کوي. (بخاري ومسلم)
❹ شيطان يعني چغلخوري کوونکی کس به جنت نه ځي .
❺ قطع رحمي کونکی (دخپل قريبانو سره تعلق نه ساتونکی) به جنت ته نه ځي. (بخاري ومسلم)
❻ ظلم به د قيامت په ورځ د تاريکيو په شکل کښې وي.
❼ دبجلکو کومه حصه چي په پايڅو کښې پټه وي هغه به دد وږخ په اور سوځي. (خاري ومسلم)
❽ مسلمان هغه څوک دی چي خلک يې دژبي او دلاس د تکليف څخه په امن کښې وي. (بخاري و مسلم)
❾ مهاجر هغه څوک دی چي هر هغه کار پريږدي د کوم څخه چي الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ منع کړې ده .
❿ څوک چي د نرمۍ د عادت څخه محرومه کړل سو هغه دهر خير څخه محرومه کړل سو .

⓫ پهلوان هغه ځوک نه دی چي بل کس د مځکي ووهي بلکه پهلوان هغه ځوک دی چي د درد او قهر په وخت کښې خپل ځان راقابو او کنټرول کړي .

⓬ کله چي تاسي حيا نه کوئ نو بيا چي څه غواړی هغه کوی

⓭ و الله تعالی ﷻ ته تر ټولو خوښ عمل هغه دی چی دايمي وي که څه هم لږ وي .

⓮ ستاسو څخه هغه کس زما تر ټولو خوښ دی چي ډير ښه او ښايسته اخلاق ولري .

⓯ په کوم کور کښې چي عکس او سپی وي هغه کور ته د رحمت ملائيکی نه داخليږي .

⓰ دنيا د مسلمان لپاره بندي خانه ده او د کافر لپاره جنت ده.
(بخاری و مسلم)

⓱ د مسلمان لپاره روانه دي چي تر درو ورځو زيات خپل د مسلمان و رور څخه خوابدی سي. (بخاری و مسلم)

⓲ مسلمان د يو غار څخه دوه واره نه سي چيچل کيدلای.
(بخاری و مسلم)

⓳ خاني او غِنا په حقيقت کښې د زړه خاني او غِنا ده.
(بخاری و مسلم)

⓴ په دنيا کي داسي او سيږه لکه دلاري مسافر. (بخاری و مسلم)

㉑ دانسان د درواغجن توب لپاره دومره بس دي چي هره اوريدلي خبره بل چاته بيان کړي. (بخاری و مسلم)

㉒ دانسان اکا د پلار په درجه کښې دی. (بخاری و مسلم)

www.jamairahmani.org

٢٣ څوک چي د يو مسلمان ورور عيب پټ کړي الله تعالی ﷻ به د قيامت په ورځ د ده عيبونه پټ کړي. (بخاری و مسلم)
٢٤ کامیابه هغه څوک دی چی ایمان یي راوړی او د ضرورت مطابق روزي ورکړل سوه او د الله ﷻ د طرفه چي هرڅه ورکړل سول پر هغه يي قناعت وکړی (بخاری و مسلم)
٢٥ عکس اخيستونکی به د قيامت په ورځ تر ټولو په سخت عذاب کښې وي (بخاری و مسلم)
٢٦ مسلمان د مسلمان ورور دی.
٢٧ هيڅوک تر هغه وخته پوري کامل مسلمان نه سي جوړيدای تر څو چي د مسلمان ورور لپاره هغه شی خوښ نه کړی چي د ځان د پاره يې خوښوي.
٢٨ هغه کس جنت ته نسي تللای چي ګاونډی يعني همسايه يې د تکليفو څخه محفوظ نه وي (مسلم)
٢٩ زه تر ټولو آخري نبي يم زما څخه وروسته بل نبي نه راځي. (بخاری و مسلم)
٣٠ پخپل مينځ کښي صله رحمي (قرابت او خپلوي) مه پرې کوئ يو د بله سره دښمنی مه کوئ يو د بل څخه بد مه وړئ او حسد مه کوئ ای د الله ﷻ بندګانو پخپل مينځ کښي دوړونو په شان او سيږئ (بخاری و مسلم)
٣١ اسلام ټوله هغه مخکني ګناهونه د مينځه وړي چا چي تر اسلام مخکښې د کفر په حالت کښي کړي وي .(مشکوة از مسلم)

www.jamairahmani.org

٣٢ كبيره ګناهونه دادي: شرک کول، دموراوپلار نافرماني کول، د يو بې ګناه کس وژل، ددرواغو شاهدي ورکول، (بخاري ومسلم از مشكوة)

٣٣ څوک چي يو مسلمان ددنيا دمصيبت څخه خلاص کړي الله تعالی ﷻ به هغه د قيامت دغم څخه خلاص کړي او څوک چي د يو مفلس مسلمان سره د دنيا په معاملاتو کښي آساني وکړي الله ﷻ به د هغه سره د دنيا او آخرت په معاملاتو کښې آساني وکړي . او څوک چي د يو مسلمان عيب پټ کړي الله ﷻ به د قيامت په ورځ د هغه عيب پټ کړي او ترڅه وخته چي يي يو کس دبل مسلمان ورور په کومک کښي بوخت وي الله تعالی ﷻ به دهغه په کومک کښي بوخت وي (بخاري ومسلم)

٣٤ دالله ﷻ په نزد تر ټولو بد انسان بې ځايه جګړه كوونكى انسان دى . (مسلم)

٣٥ هر بدعت ګمراهي ده . (مسلم)

٣٦ پاک صاف اوسېدل نيم ايمان دى. (مسلم)

٣٧ په لمانځه کښي خپل صفونه سيده کوئ که نه نو الله ﷻ به ستاسي په زړونو کښي اختلاف را پيدا کړي (مسلم)

٣٨ دالله ﷻ په نزدتر ټولو خوښ اوښه ځايونه مسجدونه دي (مسلم)

٣٩ وقبر ته سجدې مه کوئ (مسلم)

www.jamairahmani.org

⓴ څوک چې پر ما يو وار درود شريف ووايي الله ﷻ به پر هغه باندې لس واره خپل رحمتونه راوليږي. (مسلم) او د ټولو اعمالو تعلق او دارومدار پر خاتمې دی. (مسلم)

# اتلسم سبق: مسنوني دعاګانې

## سهار دغه دعا ووایاست

اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ

## ماښام دغه دعا ووایاست

اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُورُ

## د سهار او ماښام يوه خاص دعاء

حضرت عثمان رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې سهار او ماښام درې واره دغه کلماتې ووايي نو هغه ته به هيڅ شی تاوان ونه رسوي هغه کلماتې دادي:

بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ

## دييدېدلو په وخت کښې دغه دعاووایاست

کله چې تاسې د بيدېدو اراده وکړئ نو اودس وکړئ او بيا خپله بستره وڅنډئ بيا پرراسته بغل پريوځئ او بيا راسته لاس تر سر لاندې کښېږدئ او دا کليمات ووایاست:

اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوْتُ وَ اَحْيٰ

او د بېدکېدلو په وخت کښې دغه هم ووایاست (سبحان الله ۳۳ واره، الحمد الله ۳۳ واره، الله اکبر ۳۴ واره)

## چې د خوبه راپورته سئ نو دغه دعا ووایاست

اَلْحَمْدُ لله الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ

## چې و تشناب ته ننوځئ نو دغه دعا ووایاست

اول بسم الله ووایاست اوبيا دغه دعا ووایاست

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ

www.jamairahmani.org

## اوچي كله د تشنابه څخه راووزئ نو دغه دعا ووایاست

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنِّي الْأَذَى وَعَافَانِي

## چي كله اودس شروع كړئ نو دغه دعا ووایاست

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

## چي كله مو اودس ختم كړئ نو بيا دغه دعا ووایاست

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنْ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنْ الْمُتَطَهِّرِينَ

## چي ومسجد ته ننوځئ نو دغه دعا ووایاست

اَللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ

## چي کله په مسجد کښي ناست ياست نو دغه دعا ووايا ست

سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ

## چي کله د مسجد څخه راووزئ نو دغه دعا ووايا ست

اَللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ

## دسهار اومابنام دلمونځونو څخه وروسته دعاګاني

رسول الله ﷺ فرمايلي دي : چي که يو څوک د سهار او د مابنام دلمونځونو وروسته دچا سره دخبرو کولو څخه ترمخه اووه واره (اللهم اجرنی من النار ) يعنی: (ای الله ﷻ ما د دوږخ داوره څخه وساتې ) ووايی نو که په هغه ورځ يا شپه کښي مړسو نو ددوږخ داور څخه به ضرور خلاص سي .

## چي د کورڅخه راووزي نو دي دغه دعا وايي

بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ

www.jamairahmani.org

## چي کورته ننوزي نو دي دغه دعاوايي

اَللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللَّهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللَّهِ خَرَجْنَا وَعَلَى اللَّهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا

## چي بازارته ولاړ سي نودي دغه دعا وايي

بِسْمَ اللّٰه اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَسْئَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ السُّوْقِ وَ خَيْرَ مَا فِيْهَا وَ اَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهَا وَ شَرِّمَا فِيْهَا اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُبِكَ اَنْ اُصِيْبَ فِيْهَا يَمِيْناً فَاجِراً

اَوْ صَفْقَةً خَاسِرَه

## چي ډوډۍ شروع کړي نو دي دغه دعا وايي.

بِسْمِ اللّٰهِ وَ عَلٰي بَرَكَةِ اللّٰه

## که چيري يي په شروع کښي بسم اللّٰه هېره سوله بيا دي دغه دعاء ووايي

بِسْمِ اللَّهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ

www.jamairahmani.org

## چي ډوډۍ يې وخوړل نو دي دغه دعا وايي

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ

## كله چي شيدې وچيښئ نو دي دغه دعا ووايي

اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ

## چي ديوچا ميلمستيا وخوري
## نو دي دغه دعا وايي

اللَّهُمَّ أَطْعِمْ مَنْ أَطْعَمَنِي وَأَسْقِ مَنْ أَسْقَانِي

## چي د كوربه د كوره روان سي نو دي
## دغه دعا وايي

اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ

## كله چي روژه ماتوي نو دي دغه دعا وايي

اللَّهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلَى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ

www.jamairahmani.org

## كله چي يې روژه مات پوره وخوړئ نودي دادعا ووايي

ذَهَبَ الظَّمَاْ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ وَ ثَبَتَ الاَجْرُ

اِنْ شَاءَ اللّٰه

## كله چي د بل چا كره روژه مات پوره وكړي نو دغه دعا ووايي

أَفْطَرَ عِنْدَكُمْ الصَّائِمُونَ وَأَكَلَ طَعَامَكُمْ الْأَبْرَارُ

وَصَلَّتْ عَلَيْكُمْ الْمَلَائِكَةُ

## چې كالي واغوندي نو دي دغه دعا وايي

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي هَذَا الثَّوْبَ وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ

حَوْلٍ مِنِّيْ وَلَا قُوَّةٍ

## چي نوي كالي واغوندي نودي دادعا ووايي

اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كَمَا كَسَوْ تَنِيْهِ اَسْئَلُكَ خَيْرَهُ وَ خَيْرَ

مَاصُنِعَ لَهُ وَ اَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهِ وَ شَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ

## كله چي په هنداره كښې خپل ځان ته وګوري نو دي دغه دعا وايي

اللّٰهُمَّ اَنْتَ حَسَّنْتَ خَلْقِي فَحَسِّنْ خُلُقِي

## وزوم ته دي داسي مباركي وركړي

بَارَكَ اللَّهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ

## كله چي دقدر شپه سي نودي دادعا ووايي

اللَّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ

## چي نوې مياشت يعني سپوږمۍ ووينې نودي دادعا ووايي

اللَّهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْيُمْنِ وَالْإِيمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ رَبِّيْ وَرَبُّكَ اللَّهُ

www.jamairahmani.org

## كله چي يو مسلمان په خندا ووينې نودي دادعا ووايي

اَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ

## كله چي ديو مريض پوښتني ته ورسي نودي دادعا ووايي

لَا بَاْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَاءَ اللّٰه

## كله چي په سفر ځي نودي دادعا ووايي

سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ (13)
وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ

## چي تر منزله پوري ورسيږي يا پر يوې اډې او ځاى باندي كښته سي نودي دادعا ووايي

أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ

## چي وه هديرې ته ولاړ سي نودي دادعا ووايي

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ يَغْفِرُ اللَّهُ لَنَا وَلَكُمْ أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْأَثَرِ

## كه كوچنى د مرض او شر څخه ساتي نودي دادعا ووايي

أُعِيْذُكَ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ وَ كُلَّ شَيْطَانٍ وَ هَآمَّةٍ وَ مِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ

## چي مرګ كله رانژدي سي نودي دادعا وويل سي

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي وَ ارْحَمْنِي وَالحِقْنِي بِالرَّفِيْقِ الاَعْليٰ

## دخپل نفس دختلو په وخت كښې دي دادعا وويل سي

اَللّٰهُمَّ اَعِنَّيْ عَلٰي غَمَرَاتِ المَوْتِ وَسَكَرَاتِ المَوْتِ

www.jamairahmani.org

## سهار او ماښام د ويلو خاصه دعا

**رَضِيْتُ بِاللّٰه رَبًّا وَّ بِالاِسْلَامِ دِيْناً وَ بِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا**

الحمد لله د پنجشنبه ورځ د شوال ۱۲ ورځ، د ۱۴۳۳ هجري قمري کال د ډهلي ښخه و کندهار ته د سفر په دوران کښي په طياره کښي تکميل سو.

www.jamairahmani.org